**پاکستان او افغانستان به د واحد اسلامي دولت (اسلامي خلافت) برخه وي**



د ۲۰۱۸م د مارچ پر دویمه د پاکستان او افغانستان د ګډې خونې او صنعت مشر، زبیر موتي والا پاکستاني ورځپاڼې ډان ته په خپلو څرګندونو کې وویل: «هند په کابل کې د خپل نفوذ په پراختیا کې بریالی شو، په تېرو دوو کلونو کې په افغانستان کې د پاکستان مارکیټ ته ۵۰ سلنه زیان واوښت. هغه وویل: « د تېرو دوو کلونو په ترڅ کې د پاکستان سوداګري له ۲,۷ میلیارد ډالرو څخه ۱,۲ میلیاردو ته راټیټه شوه، ان پر دودیزو صادراتو لکه: اوړو، جامو او غوښو یې هم ژور اغېز کړی. هندوستان د افغانستان د بازار د لاسته راوړلو لپاره ۷۵ سلنه په هوایي ټکیټونو کې د تخفیف او د ارزانه اجناسو صادراتو ته زمینه برابره کړه». نوموړي زیاته کړه، د افغانانو لپاره اسانه ده چې په ارزانه هوایي ټکیټونو، وړیا څو اړخیزه ویزو، د پولیسو له تلاشۍ او پلټنې پرته هند ته سفر وکړي.

له دې سره سره، چې بریتانوي امپراتورۍ ډیورنډ کرښه د دواړو لورو ترمنځ رسم کړه، بیا هم مسلمانانو دواړو غاړو ته ګډ ژوند کاوه او هېڅکله یو له بله نه دي بېل شوي. د پاکستان په هر ګوټ کې د افغانستان مسلمانانو کار او بار

درلود او یا یې هم د کاریګرو په توګه کار کاوه او په یاد پېر کې یې هېڅکله هم د پردیتوب احساس نه دی کړی. په ورته ډول، په افغانستان کې د پاکستان مسلمانانو ګڼې سوداګریزې راکړې ورکړې لرلې او د پاکستان ماهره کاریګرو په دې هیواد کې له وېرې پرته کار کاوه. د یادې سیمې د مسلمانانو لپاره، پاکستان او افغانستان د یوې سکې دوه مخونه دي او یاد واقعیت د شوروي اتحاد د یرغلګرو ځواکونو پر وړاندې د جهاد په ترڅ کې ښه په ډاګه شو، کله چې دواړو غاړو ته مسلمانانو په ګډه جګړه کوله، شوروي اتحاد ته یې ماتې ورکړه او په پایله کې یې د منځنۍ اسیا اسلامي هېوادونه آزاد شول.

پر افغانستان باندې د امریکا له یرغل سره سم په پاکستان او افغانستان کې امریکایي پلوو ګوډاګیانو په منظمه توګه هڅې کولې، چې د دې سیمې د اوسېدونکو ترمنځ هغه ځانګړې اړیکې له منځه یوسي چې له اسلامي عقیدې څخه یې سرچینه اخیستې دي. د امریکا تر څارنې لاندې افغاني او پاکستاني مشران یو له بل سره په لفظي شخړو اخته شول، ترڅو د مېشتو مسلمانانو د ملتپالنې احساسات راوپاروي او پر مټ یې دښمنۍ ته لمن ووهي. څو ځله پاکستاني مشرانو د افغانانو پرمخ په دې پلمه پوله بنده کړه، چې ګواکې پاکستاني خاورې ته د تروریستانو مخه نیسي. خو د پولې تړل د دواړو هیوادونو ترمنځ راکړه ورکړه زیاته ستونزمنه کړه، ان دا چې څوک نه پوهېدل تر کله او تر څومره وخته به پوله تړلې وي. چارواکي مو پوهېږي چې دا ټول ددې لپاره ترسره کېږي، چې امریکا په افغانستان کې د هند د پښې ایښودلو د ځای په لټه کې ده.

د پاکستان او افغانستان د سوداګرۍ د کمښت اصلي لامل د چارواکو خیانت او درغلي ده. یاده سوداګري به هغه وخت بیا ځلې رامنځته شي، چې نوموړي خاین چارواکي لرې شي او د نبوت پر منهج خلافت تاسیس شي، چې په مرسته به یې د ډیورند کرښه له منځه ولاړه شي او د دواړو سیمو مسلمانان به له وېزې او نورو اسنادو پرته په ازاده توګه راکړه ورکړه کوي. د ډیورند کرښې له منځه تلل به نه یوازې د یادې سیمې مسلمانان له اقتصادي پلوه سوکاله او ښېرازه کړي، بلکې له داسې غوره حالت څخه به برخمن شي چې د امریکا او هند له لوري د رامنځته کېدونکي سیاسي او امنیتي ننګوونو پر وړاندې به ګډ دریځ خپل کړي. بېلتون مو له منځه وړي، یووالی مو بریالي کوي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿وَلاَ تَنَازَعُواْ فَتَفْشَلُواْ وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ﴾

[ الانفال:۴٦]

*ژباړه: او په خپلو منځونو کې شخړه مه کوئ، که نه نو مېړانه مو له لاسه ورکوی او ځواک به مو له منځه ولاړ شي.*

حزب التحریر- ولایه پاکستان

د Khilafah.com اډیټور

۱۴۳۹هـق، د جمادي الثاني ۲۰ مه

۲۰۱۸م، د مارچ ۹ مه

ژباړن: صدیق احمدزی